# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

**afgazad@gmail.com** **www.afgazad.com**

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
|---|---|

فرستنده: ایمل خان فیضی

نویسنده:نجیب منلی

سوم اگست ۲۰۱۱

## تقویم

د روژي د مبارکي میاشتي راتګ یوه ډېره ښه پلمه ده چي د ورځو شپو د شمېرلو او حسابولو سیستم ته لږ څه تم شو. دوه اسماني کتلي چي د بشر د ټولنیز ژوند له ډېرو پخوا زمانو راهیسي د ورځو او شپو په حسابولو کي ورته پام کېږي لمر او سپوږمۍ دي. ځمکه په شواروز کي یو ځل پر خپل مدار څرخي او موږ داسي انګېرو چي ګواکي لمر په شواروز کي یو ځل له ځمکي نه تاوېږي. همدا راز ځمکه په کال کي یو وار له لمر څخه تاوېږي یاني که کومه ورځ په اسمان کي د لمر د ښکاره کېدو ځای په نخښه شي نو نېږدي ۳۶۵ ورځي (یو کال) وروسته به بیا لمر په هماغه ځای ولاړ وي. سپوږمۍ هم په میاشت کي یو وار له ځمکي څخه تاوېږي یاني که بیا هم په اسمان کي یو مهال د سپوږمۍ شکل په نخښه شي نو شاوخوا یوه میاشت وروسته به بیا سپوږمۍ په هماغه شکل څرګندېږي.

دا هغه واقعیتونه دي چي زموږ ورځنۍ تجربه یي هر وخت ثابتوي او له ډېر پخوا راهیسي زموږ د ورځو شپو، میاشتو، کال حساب په همدې ډول راروان دی.

خو که واقعیتونو ته لږ په ځیر وکتل شي نو خبرې بیا دومره ساده هم نه دي

له لمر څخه د ځمکي د تاوېدلو موده پوره ۳۶۵ شواروزه نه ده، ۳۶۵ شواروزه، پینځه ساعته، اته ۴۸ دقیقي او ۴۵،۲۶۰۶ ثانیي ده. همدا راز سپوږمۍ له ځمکي نه په په ۲۹ شواروزو، ۱۲ ساعتو، ۴۴ دقیقو او ۲،۹ ثانیو کي تاوېږي. اوس نو که کال پوره ۳۶۵ ورځي و ګڼل شي نو له واقعي کال څخه به یو څه لنډ راشي، ځلورکاله وروسته به لمر لا په اسمان کي هغه ځای ته نه وي رسېدلی چي ځلورکاله ورانديږ و. هغه څو ساعته توپیر، بالاخره نېږدي پوره شواروز ته رسېږي. نو له همدي کبله د نجومي محاسبو په ډېر پخواني پېر کي دې خبرې ته پام وشو او په ځلورو کلونو کي یو کال د «کبیسه کال» په نامه ۳۶۶ ورځي ، ټاکل شو. خو بیا هم حساب پوره نه راځي. له دې سموني سره سره بیا هم یو کال له خپل اصلي وخت څخه څه کم یوولس دقیقي او پینځلس ثانیي اوړد راځي چي دا هم په ځلور سوو کالو کي یو شواروز ته رسېږي.

همدغه راز له څمکې څخه د سپوږمۍ تاوېدل – چې د میاشتې تعریف دی – پوره ۳۰ ورځې نه راځي. هره میاشت ۱۲ ساعته او څه کم درې ثانیې توپیر په کې پیدا کېږي چې په دوه میاشتو کې یو شواروز او څلور ثانیې ترې جوړېږي.

د لمریز کال له پاره لومړی د میاشتې تعریف ۳۰ شواروزه و ټاکل شو، چې په دې حساب یو کال (دولس میاشتې) درې سوه او شپېته ورځې راځي. یوه میاشت هم چې کله ۲۹ ورځې او کله دېرش ورځې وشمېرل شي، سپوږمیز کال (دولس میاشتې) ۳۵۴ ورځې راځي.

په پخوانیو وختونو کې، په هغو سیمو کې چې لمریز کال ته اعتبار ورکول کېده، غالباً هر کال پینځه یا شپږ ورځې په تقویم کې نه شمېرل کېدې. په پخواني روم کې دا هغه ورځې وې چې گناه یې د سړي له ذمې ساقطه وه، نو خلکو به په کې له ټولو مذهبي مکلفیتونو څخه ځان ازاد باله (اوسنی کارنیوال چې په اکثرو مسیحي مذهبه هېوادونو کې لمانځل کېږي او خلک په کې هر ډول نخرې کول مجاز بولي د هماغو وختونو څخه راپاتې دی).

ځینو نورو ټولنو به بیا په کال کې د څو ورځو یوه ناقصه میاشت ور زیاتوله. د سپوږمۍ په اعتبار کال هم هر کال د لمریز کال په نسبت یوولس یا دولس ورځې لنډ راځي، نو هغه مېلې او جشنونه به چې د دې کال په اعتبار لمانځل کېدل له لمریزو فصلونو څخه به وړاندې، وروسته کېدل. د عربو په جزیره کې چې د حج مراسم تر ټولو ستره سیمه ییزه مېله وه، د دولسمې میاشتې په اوږدو کې لمانځل کېدل، خو هڅه دا وه چې دا مراسم د کال په داسې فصل کې وشي چې د میوو او کرنیزو محصولاتو (خصوصاً د خرماوو د ټولولو وخت) د پېر او پلور له پاره مناسب وي. هغه مهال د حجاز خلکو په دریو کالو کې یو وار د ذوالحجې او محرم د میاشتو تر منځ یوه اضافي میاشت ورزیاتوله چې دې کار ته یې «نسيء» ویل. د عربو په فرهنگ کې په کال کې څلور میاشتې «حرامې» بلل کېدې چې ځینې کارونه په کې ناروا وو. د یو میاشتې په زیاتولو به کله کله د څلورو پر ځای پینځه میاشتې حرامې شوې.

په عبري، چیني هندي او ځینو نورو تقویمونو کې همدا د څو ورځو د زیاتولو رسم لا تر اوسه روان دی. دغه ډول کال ته «سپوږمۍلمریز» ویل کېږي.

د هجرت پر اتم کال دا آیت مبارک نازل شو چې «میاشتې د خدای له لوري دولس ټاکل شوې دي.» (۹ سوره، ۳۶ او ۳۷ آیتونه). د حجةالوداع په خطبه کې ستر پیغمبر هم همدې خبرې ته اشاره وکړه: «ای خلکو، نسيء (د میاشتو زیاتول) په کفر کې دي چې هغه څوک چې کافران دي پرې لارورکي کېږي. یو کال یې روا کوي او بل کال یې ناروا کوي. د دې له پاره چې د خدای له حرامو کړو میاشتو سره یې برابر کړي، هغه څه چې خدای حرام کړي حلالوي یې او هغه څه چې خدای حلال کړي حراموي یې. رېښتیا خبره دا ده چې وخت هماغسې دی لکه کله چې خدای اسمانونه او ځمکه پیدا کړل او رېښتیا خبره دا ده چې د خدای په وړاندې میاشتې دولس دي. په هغوی کې څلور حرامې دي، درې پرله پسې او رجب بېل دی چې د شعبان او جمادي تر منځه دی.»

د الله له خوا د میاشتو د شمېرې له ټاکل کېدو سره د اسلامي تقویم نوې بڼه را منځ ته شوه. په دې تقویم کې عموماً د میاشتو د ورځو شمېر په لاندې ډول ټاکل کېږي:

محرم (۳۰)، صفر (۲۹)، ربیع الاول (۳۰)، ربیع الثانی (۲۹)، جمادی الاول (۳۰)، جمادی الثانی (۲۹)، رجب (۳۰)، شعبان (۲۹)، رمضان (۳۰)، شوال (۲۹) ذوالقعده (۳۰) او ذوالحجه (۲۹ یا ۳۰)

لکه پورته چې وویل شول، یوه میاشت پوره نهه ویشت نیمې ورځې نه ده، څلورڅلوېښت دقیقې او څه کم درې ثانیې ترې زیاته ده. په ۲،۷ کلونو کې دغه ۴۴ دقیقې پوره ورځ جوړوي نو ځکه په هرو دوو یا دریو کالو کې یو

کال ته «کبیسه» ویل کېږي. په عادي کلونو کې د والحجې میاشت نهه ویشت ورځې او په کبیسه کلونو کې ۳۰ ورځې راځي. د ۳۰ کالو په موده کې ۱۹ کاله عادي کلونه دي او ۱۱ په کې کبیسه دي (دویم، پینځم، اوم، لسم، دیارلسم، شپاړسم، اتلسم، یوویشتم، څلېرویشتم، شپږویشتم او نهه ویشتم).

البته د پورتني اصل تطبیق دومره دقیق هم نه دی، ځکه چې د نوې میاشتې پیل د میاشتې له لیدل کېدو سره تړلی دی نه له حساب شوي نجومي حالت سره. عموماً چې ځمکه او سپوږمۍ سره په یوه کرښه واقع شي، تر دې شپې د ۱۵ او ۱۸ ساعتو ترمنځ وخت اوړي چې میاشت د لیدل کېدو وړ شي. که میاشت د ورځې په رڼا د لیدل کېدو وړ شي ، نو په سبا یې د میاشتې لومړۍورځ حسابېږي.

که څه هم اسلامي نصوص په جوته د تقویم په برخه کې د نجومي محاسبې منع نه ده راوړې خو د علماوو اکثریت د میاشتې لیدل غوره بللي دي، په تاریخ کې یوازې د «فاطمي» سلسلې پاچایانو (له دریمې تر پینځمې لېږدیزې پېړۍ پورې) نجومي محاسبه په پام کې نیولې ده.

که څه هم د تقویم یووالی د اسلامي تاریخ په اوږدو کې ډېر مهم نه دی بلل شوی، هر ولس په خپلې سیمې کې د میاشتې په لیدلو بسنه کړې ده خو اوس چې د عامه اړیکو وسایلو پراخه وده کړې او له بل لوري سیاست هم په مذهب کې په ښکاره لاس وهني کوي د میاشتې لیدل د اسلامي نړۍ له پاره په یو لوی سرخوږي اوښتي دي. د ۱۴۲۹ ل.س. کال د شوال لومړۍ نېټه (کوچنی اختر) په یو هېواد کې د تلې په اومه، په ۱۹ هېوادو کې په اتمه، په ۲۵ هېوادو کې په لسمه، په ۵ هېوادو کې په یوولسمه او په یو ځای کې په دولسمه ونمانځل شو، به داسې حال کې چې د نجومي کتنو پر بنسټ له رمضان څخه شوال ته لېږد د تلې په اومه د ګرینویچ پر مهال د سهار په اتو بجو او دولسو دقیقو شوی و.

ډېری مسلمانان دا ډول توپیرونه ستونزمن بولي او د اسلامي امت په خیر یې نه ګڼي. مصري قاضي احمد محمد شاکر په ۱۹۳۹ کال کې دا نظر وړاندې کړ چې اوس د نجوم د علم پر بنسټ د میاشتو د بره کېدلو دقیق وخت پیداکول هېڅ عملي او فقهي ستونزه نه لري. قطري عالم یوسف القرضاوي هم په ۲۰۰۴ کال کې همدا نظریه تایید کړه. د شمالي امریکا فقهي شورا په ۲۰۰۶ کال کې د محاسبې پر بنسټ د میاشتو د پیل د ټاکلو اصل و مانه. په ۲۰۰۷ کال کې د اروپا د فتوا او تحقیق شورا هم د سعودي عربستان د «ام القرا» د کوارډیناتو (جغرافیایي مشخصاتو) پر بنسټ د نجومي محاسبې اصل منلی دی چې بیا د شمالي امریکا فقهي شورا هم دا اصل منظور کړی دی.

کېدای شي چې د علم او تکنالوژۍ په عصر کې به د اسلامي یووالي د سمبول په توګه په راتلونکي کې د نړۍ ټول مسلمانان په یوه ورځ روژه نیسي او په یوه ورځ به اختر کوي. هېڅ دلیل نه لیدل کېږي چې حتی د دیني ارکانو په تطبیق کې دې هم مسلمانان تر ابده په اختلاف کې سره همنظري واوسي.